AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۲۱ / ۰۷ / ۱۵

# نظر او تعبير

زما د عشق تعبير له ما سره دی
ستا هم د عشق تعبير له تا سره دی
زما نظر به هميشه زما وي
د بل نظر هم د بل چا سره دی
موسی د خپل دين په راز ښه پوهېده
د عيسويت راز د عيسی سره دی
زردشت ته خپله لاره ښه ښکارېده
عشق د بوديزم له بودا سره دی
که هر څو ډېر شي د تعبير ډولونه
خو هر تعبير د اقتضا سره دی
مانا په يو تعبير کې نه ځايېږي
هر يو تعبير، خپلې مانا سره دی
د باغ د بوټو که رنګ بېلا بېل دی
د بوټو رنګ د باغ ښکلا سره دی
که شپې تورتم کې اسمان روڼ ځلېږي
د ډېرو ستورو په ځلا سره دی
زما او ستا نظر کې شته اختلاف
يووالي هم پکې ريښتيا سره دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ